محمد ایاز نوری
۲۰۱۵ /۱۲ /۷

د سلما مهم بند باید کلک وساتو

افغان وطن دوست ملي شخصيت پروفيسور هاشميان صاحب د افغان جرمن په مشهور پورتال (تحليل ها و پيام ها) کي تر لاندي عنوان ليکي: **سه خبر تکان دهنده**

«ديروز در اجمال خبر های پورتال وزين (تول افغانستان) به سه خبر تکان دهنده متوجه شدم و خواستم اين سه موضوع را[زه دلته دغه لومړی موضوع ورنه را اخلم] را به توجه مردم افغانستان در داخل و خارج برسانم.

خبر تخریب بند سلما توسط ایران:

در خبر آمده بود که آمر امنیت بند سلما در هرات یک لاری حامل مواد انفلاقی بسیار قوی را در جوار بند مذکورکشف نموده و در بین لاری مذکور اسناد گروه پاسداران شواهد دیگر بدست آمده که نشان میدهد ایران در صدد تخریب بند سلما میباشد. اینکه این بار اقدام تخریبی ایران موفق نشده معنی آنرا ندارد که بار دیگر و بار دیگر اقدام نمیکنند. بنابران وزارت های دفاع و داخله باید در چهار اطراف بند سلما قطعات مجهز کشف تاسیس کنند تا شب و روز متوجه حملات تخریبی ایران باشند. بعد از اینکه دشمنان افغانستان بند سلما را تخریب کنند، تاسف و تاثر وزارت های دفاع و داخله قابل قبول نخواهد بود. »

په دوام زه ليکونکی د درنو افغانانو جدي پام دغه لاندي ريوټ ته رااړوم، چې د ژمن ويب پاڼي نشرته ورکړي دي:

ژمن کره خبر او بې پرې تحليل:

يو شمير ايراني کړی هڅه کوي، چې د سلما بند ونړوي

افغان جرمن آنلاين په درنښت تلسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نسيم کابلوال: ۲۰۱۵/۱۲/٤ افغانستان, ورځنۍ پېښې

" د هرات ولايت په چشت شريف کي د هند په مرسته نوی جوړ شوی سند (سلما) امنيتي مسوولين وايي، د يو شمېر ګاونډيو هيوادونو په ګډون، د ايران په دننه يو شمېر کړی هڅه کوي، تر څو د سلما بند ونړوي.

د سلما پروژې د جوړولو کار له ۴۵ کلونو وروسته پېنځه اتيا سلنه بشپړ، دوه توربينونه يې لګول شوي او اوس يې د ډډۍدو چارې روانې دي، چې تر نيمايي هم ډک شوی او ۵۱ ميليونه متر مکعب اوبه په کې درېدلي دي. چارواکي وايي، په راتلونکي پسرلي کي به دغه بند ۲۸ ميګا واټه برېښنا توليد کړي، چې د هرات ښار ته به ولېږدول شي. دوی زياتوي، چې د دريم توربين په لګولو سره د راتلونکي کال په غبرګولي کي به د ياد بند د برېښنا د توليد ظرفيت ۴۲ ميګا واټو ته لوړ شي.

د افغانستان د انرژي او اوبو وزيرعلی احمد عثماني د يوه پلاوي په مشرۍ د دغه بند د چارو د کتلو په موخه هرات ته سفر کړی دئ. هغه وايي، د دې بند کار نوي سلنه مخ ته تللی او په راتلونکي کال به ګټې اخستنې ته وړاندې شي. هغه ټينګار کوي، چې دا يوه مهمه پروژه ده او د ساتنې په موخه به يې هڅې دوام ولري. وزير وايي، د دې بند په اړه د ګاونډ هيوادونو اندېښنې بې خايه دي ځکه، چې په دې بند کې کورنۍ لوبه زيرمه کېږي.

په همدې وخت کي د سلما د بند د ساتنې د کنډک قوماندان سمونوال ولي محمد رشيدي وايي، تر اوسه هم ګاونډي هيوادونه هڅه کوي، چې دا چارې ټکنی کړي او د دغه بند د له منځه وړلو هڅه کوي. دئ زياتوي په دې وروستيو کي يې په سيمه کې پريوه موټر بار چاوديدونکي توکي يې نيولي، چې د ايران د سپاه پاسدارانو کالي هم ورسره موجود وو.

په هرات کي د هند د قونسلګرئ مسوولين هم ټينګار کوي، چې هندوستان د دې پروژې د دې پروژې د بشپړولو په برخه کې خپلو وعدو ته ژمن دئ. که څه هم د چشت ولسوالی اوسيدونکي، چې دا بند په کې پروت دئ د امنيتي ستونځو په اړه اندېښمن دي، خو د انرژي وزير وايي، د اوبو د زېرمه کولو چاره پېل شوې او په پام کي ده، چې په دري توربينونو ۴۲ ميګا واټه برېښنا توليد کړي."

د سلما د اوبو د زېرمې بند يوه مهمه عام المنفعه پروژه ده، چې زمونږ ګران افغانستان ته د هندوستان د تل دوست پاتې شوي هيواد د زيارکښو خلکو د مالي نه دغه ده له خيره سره کار يې مخ په بشپړېدو ده. په دې ارزښتناکه اقتصادي پروژه کي د افغانستان د هر وګړي ګټه نغښتې ده. د آزادي راډيو د رپوټ سره سم له دې زېرمه شويو اوبو نه به د ۸۰ زرو هکتارو په مساحت په تنده پرته ځمکه کر کيلې ته تياره شي او تر څنګ يې ۴۲ ميګاواټه برېښنا هم توليد کيږي، چې زمونږ د هرات د ولايت پتمن اوسيدونکي به تري مستفيد شي.

اوس پوشتنه دا ده، چې د زمونږ ګاونډيان او بالخصوص د ايران آخوندي دولت په کوم روا حق زمونږ دغه مهمه پروژه راته تخريب کوي؟؟، د افغان اړوند وزير د خبرې په ارتباط دا زېرمه شوې اوبه خو زمونږ د خپل غرني هيواد د واورو محصول دي. ايرانی دولت په ظاهرکي دوست او د پردي تر شاه زمونږ د هيواد د ملي ګټو پر ضد يو مکار ګاونډ دئ. له پردي ګيله نشته. مونږ افغانان بايد په کلکه خپلو ملي ګټو ته په دفاع کي ودرېږو. زه درود او شاباس وايم زما هغه اتل افسر، د سلما د بند د ساتونکي کنډک د کوماندان شاغلي سمونوال ولي محمد خان رشيد ته، چې پرون يې د آزادي راديو سره په خپله مرکه کي وويل: «**تر خپلې وروستی کترې وينې به د دې بند د ساتلو لپاره ولاړ وم...**»

زه لکه نور مسوول افغانان په افغان دولت غږ کوم، چې د سلما د بند د ساتلو رژيم نور هم غښتلی کړي، د يوه بل کنډک د افادو پر اضافه بايد د بند د کشفي او استخباراتو تشکيل نور هم قوي او دقيق شي، ځکه د مخالف هيواد او يا هيوادونه دا زړه نلري، چې مخامخ په دې پروژه يرغل راوړي، بلکې دا کار دوی په پته کوي، چې په دې صورت کې زمونږ افغاني استخبارات ښايي اړينه تياري ورته ولري او يوه شيبه هم پخپل ملي مکلفيت کې غافل پاتې نشي.

زه د هيواد د ننه او بهرهيواد پاله شخصيتونو او ملي تشکيلاتو اړوند کسانو ته رجوع کوم، چې د سلما د بند د اطميناني ساتلو د موضوع په باب په مسلسل ډول افغان حکومت ته خبر داری ورکړي.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ